# دانګلیسي تورو معناوې

A: دغه توری د (الف او ع) آواز لري لکه: Aziz, Apple.

B: دغه توری د (ب) آواز لري که د لغاتو په منځ کې د T څخه د مخه او د لغاتو په پای کې د M څخه وروسته راشي نه تلفظ کیږي لکه: Bomb, Comb, Debt, Book.

C: دغه توری د (س او ک) آواز لري که د C څخه وروسته (I, E, Y) توري را غلي وي د (س) آواز لري او په نورو خالتونو کې د (ک) آواز لري ځینې وختونه SC د (س) آواز لري لکه: Scissors, Science, City, Center, .Bicycle, Cook, Muscle

کله چې د K څخه مخکې د C توری راغلی وي نو C توری نه تلفظ کیږي لکه: Sick, (مریض) Back, (ملاتړ) Sack (تلاکول).

D: دغه توری د (د او ډ) آواز لري که د D وروسته د J یا G توري راشي D توری آواز نه ورکوي لکه: Disclose (ښکاره کول) Adjective (صفت) Adjure (لوړه کول) Bridge (پل).

E: دغه توری د (ی) او کله د (زبر) آواز لري لکه: Egg, Ear.

F: دغه توری د ف آواز لري لکه: Fame (شهرت) Fox (ګیدړ) Film (فلم) Factory (فابریکه).

G: دغه توری د (ج او ګ) آواز لري G د M او N څخه د مخه نه اداکیږي لکه: Foreign (خارجی)

کله چې د G څخه وروسته د (E, I) توري راغلي وي د (ج) او کله د (ګ) آواز لري خو کله چې د G څخه وروسته د (Y) توری راغلی وي نو همیشه د (ج) آواز لري لکه: Garden (باغ) Girl (جلکۍ) Gymnastic (یوډول لوبه ده).

کله چې یو لغات په Gh سره پایته ورسیږي د (ف) آواز لري لکه: Cough (ټوخی) Rough (ګنډ او کېر).



Author: Hasinullah Hassand

H: دغه توری د (ح او هـ) آواز لري کله چې Wh راغلي وي نو H غږ نه ورکوي لکه: Help (کومک کول) Why (ولې) Harm ضرر رسول Hide (پټول).

I: دغه توری تقریباً د E توری سره یوشان دی یعنې د (ي او زېر) آواز لري لکه: India, Ink.

J: دغه توری د (ج او ژ) آواز لري لکه: Jam (مربا) Joke (ټوکه) Jeer (پیغور) Jaw ad (جواد).

K: دغه توری د (ک) آواز لري که د لغاتو په پیل کې د N څخه د مخه K راغلي وي نه تلفظ کیږي لکه: Knee (ځنګون/ ټوټکی) Knowledge (پوهه) Kill (وژل) Kind (مهربانه).

L: دغه توری د (ل) آواز لري د لغاتو په منځ کې ځینې وخت د K څخه د مخه راغلی وي نه تلفظ کیږي لکه: Talk (خبرې کول) Walk (قدم وهل) Milk (شیدې) Look (کتل) Lucky (خوشبخت).

M: دغه توری د (م) آواز لري لکه: Meet (ملاقات کول) Man (سړی) Moon (سپوږمۍ).

N: دغه توری د (ن) آواز لري په لغاتو کې د M څخه وروسته Nراغلی وي نه تلفظ کیږي لکه: Condemn (غندل) autumn (خزان) Notebook (کتابچه) Noon (عرمه).

O: دغه توری د (و، ع او الف باندې پېش) آواز لري لکه: Orange, Our.

P: دغه توری د (ف) آواز ورکوي د لغاتونو په منځ کې د M او S څخه د مخه راغلی وي نه تلفظ کیږي لکه: Pneumonia (سینه بغل) Psychology (سایکالوجي) Peep (د سترګو لاندې کتل) Parents (والدین).

Q: دغه توری د (ک او ق) آواز لري او د انګلیسي په ژبه کې د Q وروسته معمولاً د (U) توری استعمالیږي لکه: Queen (ملکه) Question (پوښتنه کول) Quick (چټک) Quran (قران).

R: دغه توری د (ر) آواز لري لکه: Ruler (خط کش) Rashid (راشید) Rain (باران).

Hasand



Author: Hasinullah Hassand

S: دغه توری د (س) آواز لري لکه: Science (ساینس) Security (امنیت) Seek (پلټل) Son (زوی).

T: دغه توری د (ت او ټ) آواز لري د لغاتو په منځ کې د Ch نه د مخه T راغلي وي نه تلفظ کیږي لکه: Teacher (استاد) Tools (شیان) Watch (لاسي ساعت) Match (لوبه).

U: دغه توری د (ی) او په خپله د (یو) آواز لري لکه: University, Unit, Umbrella.

V: دغه توری د (و) آواز لري لکه: Valley (دره) Vote (رایه) Vomit (قی کول) Voice (آواز).

W: دغه توری د (و) آواز لري که د W څخه وروسته د R توری راشي بیا W نه تلفظ کیږي لکه: Work, Wrong.

X: دغه توری د (اکس یا اګز) آواز لري خو د لغاتو په پیل کې د Z آواز ورکوي لکه: Xenon (یوډول ګازدی) Box (بکس) Exercise (تمرین) Exam (ازموینه).

Y: دغه توری د (ي) آواز لري لکه: Yard, Yellow.

Z: دغه توری د (ز او ذ) آواز لري لکه: Zebra (ځنګلي خر) Zero (صفر) Zoo (باغ وخش).

## مرکب/ترکیبي توري (Compound Letters):

| Words | معناوې | مثالونه |
|---|---|---|
| Ch | چ،ک او ش | Chair, School, Chalk |
| Sh | ش | Shoe, She, Shampoo |
| Gh | غ | Afghan, Ghani |
| Kh | خ | Khan, Khalid |
| Ph | ف | Phone pharoq |
| Th | ث،ت | فکرکولThink, Thanks |
| Zh | ژ | Zhman, Zhala |
| Tion | شن | Education |
| Sion | شن، ژن | Admission, Television |

Hasand

| | | |
|---|---|---|
| Dge/du | جو، ایج | Education, Knowledge |
| Ce-Ci-Cy | س | Center, Circle, Bicycle |
| Cient | شنټ | لرغونی Ancient |
| Ture | چر | ماهیت/ طبعیت Nature |

Hasand